Share

Twittern

سرلوڅ مرادزی

۲۵ / ۰۵ / ۲۰۱۲

# د شیکاګو کنفرانس او د افغانستان راتلونکي

د شیکاګو کنفراس په کور دننه او د سیمه یزو بدخواهانو او منفي پالو د هیلو او وړاندوینو خلاف د نوي، پرمختللي او دیموکرات افغانستان لپاره نوي افقونه پرانیستل او افغانانو ته یې نوي فرصتونه مخی ته کیښودل. اوس دا په افغان دولت او ټولو افغانانو پورې اړه لري چې له دې فرصتونو څخه څنګه په هیواد کې د امنیت د ټینګولو او ښې حکومتولې لپاره ګټه پورته کوي ، څکه نن هم امنیت او ښه حکومتولي د نورو ستونزو په سرکی ځای لري.

له دی کنفرانس روسته، افغانستان د ژوند بل او نوي پړاو ته ورداخلیږي چې یو شمیر افغان شنونکي او د نظرخاوندان یې **د بدلون لسیزه** یا د بدلون کلونو په نوم یادوي . که د شیکاګو کنفرانس څخه مخکی افغانستان د ځان د دفاع لپاره زیات په پوځي برخه کی د نړی ملاتړ ته اړتیا درلوده او نړیوالوهم پوځي سکټور ته لومړیتوب ورکړی وو، له کنفرانس روسته په افغانستان کی د پوځي ښې روزنی ، په پوځي وسایلو او تخنیک د افغان امنیتي ځواک د سمبالتیا او چمتووالي ترڅنګ ، اقتصادي او ټولنیز ریفورم ته بیا د ورځی د عمده غوښتنو په سترګه کتل کیږي.

لومړی پړاو چې افغانان او نړیوال یې محاربوي پیر بولي، په هغه کی د افغان ، ایساف او ناټو ځواکونو په ګډه له افغانستان څخه د القاعدی او نورو سیمه یزو او نړیوالو ترهګرو لمن ټوله کړه او افغانستان کی یې د نوی اداری بنسټ کیښود چې پخوانی هغه یې ددغو تورو ځواکونو په لاس له بیخه ړنګه شوی وه.

په دی پیر او لسیزه کی افغانستان، د سوله پالو او هیوادپالو افغانانو او د نړیوالو په ملاتړ او مرسته، له هغه مرستون څخه چې جګړمارو ځواکونو ، جهادي ــ مافیایي ګړیو او د سیمی سراښو ګاونډیانو هلته ژوندی خښ کړی وو، نجات او خلاصون وموند او بیرته له نړیوال بهیر سره یوځای او د یوه خپلواک او مستقل هیواد په حیث راوځلید. اوس نننی افغانستان د نړی له هیوادونو سره بیرته سیال شوی او د سیالانو په مخکښه لیکه کی ولاړ دی چې د شیکاګو کنفرانس ملاتړ د پورته ادعا د ثبوت لپاره ژوندی بیلګه ګڼلای شو .

په دی نړیواله غونډه کی د ناټو سازمان ۲۸ غړو هیوادونو او ۳۰ غیرناټو هیوادونو ولسمشرانو او لومړي وزیرانو ګډون درلود. د ناټو سرمشریزی خپلی پریکړی په اعلامیه کی څرګندی کړي.
په اعلامیه کی ویل شوي « له نړیوال امنیت ساتونکي ځواک (ایساف) څخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د ټولو امنیتي مسوولیتونو د انتقال نه بدلیدونکی پروسه، چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه بشپړیږي، سمه پر مخ روانه ده.» اعلامیه همداراز وایي ایساف چې په جنګي چارو به یې تمرکز کاوه، نور د افغان امنیتي ځواکونو روزنی، مشاوری او ملاتړ ته پام واړوي څو د افغانانو هغه ملاتړ یقیني شي چې دوی د زیاتو مسوولیتونو د خپلولو په ترڅ کی ورته اړتیا لري.
همداراز اعلامیه زیاتوي « موږ په تدریج او په مسوولانه ډول د خپلو ځواکونو شمیر کموو تر دی چې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په پوډیرشمه د ایساف ماموریت ختم کړو.»
د ناټو منشی اندرس فوګ راسموسن وویل چې د ناټو دنده په افغانستان کی پایته نړدی شوی خو دا پای د افغانستان د بیخي پریښودلو او هیرولو په مانا نه دی . د امریکا ولسمشر اوباما هم چې د ناټو غړو هیوادو امنیت یې د افغانستان په امنیت پورې ترلی وباله ، وویل چې افغانستان کی لا اوس هم ډیری ددی مخی ته پرتی پاتی دي . نوموړی د ناټو د دویمی ورځی دغونډی پرمهال داډ څرګند کړ چې افغانستان ددی وړتیا لري چې د ۲۰۱۴ کال وروسته د خپل امنیت بشپړ مسولیت په غاړه واخلي. اوباما زیاته کړه چې دافغانستان دامنیتي مسولیت د انتقال بهیر په سمه روان دی او په دی یې ټینګار وکړ، په داسي حال کی چې افغانان مخ پروړاندی ځي او د خپل هیواد دامنیت چاری به پخپله پرمخ بیوسي، نړیوالی ټولنه به افغانستان دغسي پری نږدي. **افغانان چې هروخت د ننګونو پر وړاندی دریږي، یواځي به نه دریږي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د ناټو چاړواکي به د توکیو په غونډه کی له ۲۰۱۴ وروسته له افغانستان سره څه باندی څلور ملیارد ډالره کلنی مرسته او دغه راز د افغانستان د اقتصادي ودی لپاره مرستی اعلان کړي.
د ۲۰۱۴ کال روسته له افغانستان څخه د ایساف او ناټو د ځواکونو په وتلو سره به د افغانستان په وړاندی د پاکستان، ایران او په افغانستان دننه، ددی هیوادو د ګوډاګیانو هغه تبلیغاتي ډرامه پیکه او بیخونده شي چي ویل به یي افغانستان اشغال شوی او ملي واک نلري. که څه هم افغانستان تل خپلواک او ازاد و، خو د ګاونډیانو لاسوهنو او تیریو اړکړی وو چی د هغو د شنډولو لپاره نړیوال ملاتړ ته پنا یوسي . اوس افغانستان نه یوازی دا ملاتړ ترلاسه کړی بلکی په ګاونډ او سیمه کی یي بیرغ ترټولو رپانده ، نړیوال حیثیت یي له ټولو ګاونډیانو اوچت او ملي برم یي پر ټولو لوړ او زیات دی.
افغانستان نن د نړیوالی ټولنی یو وتلی او ښاغلی غړی دی، په داسی حال کی چی ایران او پاکستان له نړی څخه د ګوښه کیدو او هیریدو لار وهي او د تیاری او تتی راتلونکی په لور رهي دي. د کنفرانس په مهال اوباما ، د پاکستان د ولسمشر زرداری دا هیله او تلوسه چی هغه سره به لیده کاته کوي په اوبو لاهو کړه. د زرداري دا غوښتنه هم چی د ناټو د منشي راسموسن سره به یو به یو ګوري د نوموړي یو خیال پلو وخاته. د ترهګرو په له منځه وړلو کی د پاکستان د نه همکاری په لامل د می په ۲۳ مه د امریکا سنا ۵۶ په سلو کی خپلی مرستی پاکستان ته کمی کړي، چی پاکستان به ډیر ژر د تیاری او تورتم راتلونکی سره مخ کړي.
اوس د شیکاګوکنفرانس څخه روسته پیر چی د نړیوالی ټولنی د **ساتندویه پیر** په نوم یاد شوی، پیلیږي او دی پیر سره د افغان دولت پر اوږو نوي دندی او مسولیتونو باریږي.

ویل شوي د ناټو مشرانو له افغانستان سره خپلی پوځي او اقتصادي مرستی د افغانستان په دولت کی د فساد له مخنیوي، ښی حکومتولی، د بشري حقونو په تیره بیا د ښځو د حقونو له رعایت او د شفاف انتخاباتي سیستم په رامنځته کولو سره غوټه کړي دي.

د ګاونډیانو د لاسوهنو او تیریو په وړاندی د هیواد امنیت، افغانستان سره د امریکا او نړیوالو ستراتیژیکو تړونو په لاسلیک سره تضمین شوی او په دی برخه کی زیاتو اندیښنو ته ځای نه پاتیږي خو په کور دننه د امنیت ستونزه په افغان دولت پوری تړلی چی هغه څنګه حل کوي او کوم میکانیزم پلی کوي.

که د نړیوالو ځوکونو له وتلو مخکی افغان دولت ځان ونه ښندي او دولت کی دننه جهادي ـ مافیایی کړی چی د فساد، ګډوډی او بی امنی سرچینه ده او بلخوا د ایران او پاکستان د استخباراتو ځاله ده، ماتی نکړي د بدلون لسیزه او ساتندویه پیر به هم له ستونزو ډک وي او افغانستان به بیا پر نړی بار وي چی دا ځل به نړی د افغانستان بار پر اوږو وانخلي.

له هیواده بهر د جګړی لامل ورو ورو خپل ارزښت له لاسه ورکوي او د جګړی کورني لاملونه چی هغه پراخ او ناکنترولہ فساد، بده حکومتولي، د قانون ناپلیتوب او د حکومت او ولس ترمنځ واټن، بیکاري او نور جوړوي، د ورځنیو عمده پوښتنو پتوګه رامنځته کیږي او فوري حل غواړي. پخوا هم دغو فکتورونو د بهرني لامل سره لاس په لاس په هیواد کی جګړه توده ساتلی وه خو له دی روسته که د جګړی کورني لاملونه له مخی ایسته نشي، که بهرني لاملونه لری هم شي افغانان به د جګړی تر سیوري لاندی تل ژوند کوي .

که څه هم په ستراتیژیکو تړونو کی د جګړی کورني لاملونو ته هم اشاره شوی او د هغی حل لاری په یوه یا بله په ګوته شوی خو دا هم د افغان دولت او افغانانو په پوهی، زیرکی او لیوالتیا پوری اړه لري چی څنګه په دواړو ډګرونو کی د لاسته راغلو فرصتونو او شونتیاوو څخه ګټه پورته کوي.
څه ښه یی ویلي دي « که نه ځي په شا به دی کړم، چی نه یي خوری څه به دی کړم »
که دا شان فرصتونه د افغانستان ګاونډیانو او یا نورو هیوادونو ته ترلاسه وای ، دوی به له داسی فرصتونو څونه ګټه پورته کړی وای.
وخت به وښی چی په کور دننه او بهر چا له افغانانو او افغانستان سره څه وکړل؟
د یو موټي ، پرمختللي او دیموکرات افغانستان په هیله!
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ